بسم الله الرحمن الرحیم

# د افغـــانستان اســـلامي امـــارت

## د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

## د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۳/ ذوالحجة/۱۴۴۶ هـ، ق موافق ۹/جوزا /۱۴۰۴هـ، ش**

## د ذوالحجې میاشتې د لومړیو لسو ورځو ، په ځانګړي ډول د عرفې او اختر د ورځو فضائل او اعمال

الحمد لله الذي هدانا للإ سلام ، وشرع لنا موا سم الخيرات على الدوام ، وأ شهد أن لا إله إلا الله الملك القدوس السلام ، وأ شهد ان محمداً عبده ورسوله خير من صلى وصام ، وحج البيت الحرام . صلى الله عليه وعلى آله وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين ، أما بعد: فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم:{وَالْفَجْرِ . وَلَيَالٍ عَشْرٍ} الفجر: (۱-۲)

وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم:«مَا مِنْ أَيَّامِ الدُّنْيَا أَيَّامٌ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ سُبْحَانَهُ أَنْ يُتَعَبَّدَ لَهُ فِيهَا مِنْ أَيَّامِ الْعَشْرِ، وَإِنَّ صِيَامَ يَوْمٍ فِيهَا لَيَعْدِلُ صِيَامَ سَنَةٍ، وَلَيْلَةٍ فِيهَا بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ» سنن ابن ماجه (۱ /۵۵۱)

**درنو او عزتمنو حاضرینو !**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

### ۱- د ذوالحجې د لومړیو لسو ورځو فضیلت :

**درنو مسلمانانو!**

عمر ډېر په تیزۍ سره تیریږي او د عمر تیریدل زمونږ او ستاسې په اختیار کې نه دي، په کار ده چې د خپل ژوند د ضائع شوي وخت څخه عبرت واخلو او په اخلاص سره خپل خالق ته توجه وکړو.

الله جل جلاله د مسلمانانو د نجات او کامیابۍ لپاره ځینو وختونو ته په ځینو نورو فضیلت ورکړی دی د مثال په ډول د شپې آخیري برخه، د جمعې ورځ، د رمضان المبارک او د لیلة القدر شپه او د محرم الحرام لسمه ورځ، دارنګه الله تعالی د ذو الحجې میاشتې لومړیو لسو ورځو ته زیات فضیلت ورکړی دی ترڅو مسلمانان دا لس ورځې غنیمت وګڼي او په دې شپو او ورځو کې په عباداتو اهتمام وکړي ، ځکه چې د ذوالحجې په لومړیو لسو ورځو کې عبادت د کال د عامو شپو او ورځو د عبادت په نسبت څو چنده زیات ثواب لري.

دذوالحجې مبارکې ورځې او شپې د الله تعالی د قُرب حاصلولو لپاره یو مهم فرصت دی، نو الله دې موږ ټولو ته توفیق راکړي چې له دې فضیلتونو څخه ګټه واخلو.

الله تعالی د خپل فضل او کرم له مخې دا ورځې مونږ ته د کال په اخیري میاشت کې ددې لپاره مقرر کړې دي؛ چې مونږ له ځان سره محاسبه وکړو او هغه بې غوري چې مونږ په ټول کال کې کړی ده ، په دې اخیري ورځو کې یې تدارک وکړو او په تیر وخت کې چې

مونږ کومه بې غورې کړې ده په هغې پښـیماني ښـکاره کړو او په آینده کې ددې عزم وکړو او د الله تعالی سره وعده وکړو چې که چیرې په راتلونکي کال ژوندي پاتې شو ، بیا به بې پرواهي نه کوو او د عمر له شیبو او هرې لحظې څخه به لویه استفاده پورته کوو.
د ذوالحجې د لومړیو لسو ورځو ځانګړتیا داده چې په دې لسو ورځو کې د اسلام د پنځم رکن حج مهم اعمال او مراسم ترسره کیږي لکه تلبیه ویل، د حج اوله ورځ یوم الترویه، د حج لوی رکن د عرفې وقوف ، د جمراتو ویشـتل، هدیه ذبح کول ، سر خریل یا لنډول، داحرام څخه ځان ویستل، د بیت الله طواف کول او د صفا او مروه ترمنځ سعی.
همداراز عام مسـلمانان د ذوالحجې په لسـمه ورځ داسـلام سـتره شـعیره د اختر لمونځ او د اختر قرباني ترسره کوي او د اختر خوشحالي لمانځي.
د ذوالحجې په لومړیو لسو ورځو کې مسلمانان د سپین سمندر، تور سمندر ، سور سمندر ، هندي سمندر له شاو خوا او د ځمکې له هرې لورې او کونج څخه د حج د اداء کولو لپاره مکې معظمې ته راځي او د نبي علیه السلام د زیارت لپاره مدینې منورې ته ورځي.
الله جل جلاله ددې فریضـې داداء کولو په اړه فرمایلي دي : {وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالاً وَعَلَى كُلِّ ضَـامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الأَنْعَامِ }[الحج: ٢٧-٢٨]
ترجمه:- او په خلکو کې د حج اعلان (غږ) وکړه چې له هرې لرې لارې نه پلي او په هر (ډول) ډنګر اوښ سـپاره درته راشي ترڅو هغوی خپلو ګټو ته را حاضر شي او په ټاکلو ورځو کې پر هغو څارویو د الله نوم یاد کړي چې ور روزي کړې یې دي.
د ذوالحجې دلومړیو لسو ورځو بل فضیلت دادی چې الله جل جلاله د ذوالحجې په لسو شـپو قسم یاد کړی دی چې دا ددې لسو ورځو په اهمیت دلالت کوي. الله تعالی فرمایلي دي: {وَالْفَجْرِ . وَلَيَالٍ عَشْرٍ} الفجر: (١-٢)
ترجمه:- قسم دې په سحر باندې او قسم دی په شپو لسو باندې.
ترجمان القرآن عبدالله بن عباس رضي الله عنه وايي: دا لس شپې د ذوالحجې لومړۍ لس شپې دي. ابن کثیر[ ٤ /٦١٤]
د ذوالحجې په لومړیو لسو ورځو کې نیک او صالح عمل کول د کال د نورو وختونو په پرتله زیات ثواب لري.
په حدیث شریف کې راځي: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ:« مَا الْعَمَلُ فِي أَيَّامٍ أَفْضَلَ مِنْهَا فِي هَذِهِ قَالُوا وَلَا الْجِهَادُ؟ قَالَ وَلَا الْجِهَادُ إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ يُخَاطِرُ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ بِشَيْءٍ» صحیح البخاري (٢/ ٣٨٣)
ژباړه:- د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه و سلم وفرمایل: هیڅ دا سې عمل نشته چې هغه دې غوره وي ددې (د ذوالحجې د لسو) ورځو څخه . صحابه کرامو عرض وکړ او وه یې ویل: ای ر سول الله! د الله په لاره کې جهاد نه هم ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :او ی جهاد نه هم غوره دی، مګر هغه کس چې د ځان او مال سره د الله په لاره کې ووځي او دهیڅ شي سره بیرته را ستون نشي. دلته ابن حجر رحمه الله دوه توجیه کړي دي. لومړی توجیه: خپل مال ټول په جهاد کې مصرـف کړي او خپله را سـتون شي .او دوهمه توجیه داده چې نه خپله را وګرځي او نه یې مال را وګرځي.). فتح الباري لابن حجر (٣/ ٣٩٠)
حافظ ابن حجر رحمه الله ددې حدیث په شرح کې وايي:( السَّـبَبَ فِي اِمْتِيَازِ عَشْرِـ ذِي الْحِجَّةِ لِمَكَانِ اِجْتِمَاعِ أُمَّهَاتِ الْعِبَادَةِ فِيهِ ، وَهِيَ الصَّلَاةُ وَالصِّيَامُ وَالصَّدَقَةُ وَالْحَجُّ ، وَلَا يَتَأَتَّى ذَلِكَ فِي غَيْرِهِ ). فتح الباري، لابن حجر (٣/ ٣٩٠)
ژباړه:- د ذوالحجې د لسو(لومړیو) ورځو د امتیاز سبب دادی چې په دې ورځو کې د ټولو لویو عباداتو اجتماع پکې کیږي، لکه لمونځ، روژه، صدقه، او حج، چې په نورو وختونو کې دا مهم عبادتونه نه راجمع کیږي.
حافظ ابن رجب ددې روایت په شرح کې لیکي: دا حدیث ددې دلیل دی چې دا لس ورځې غوره دي د نورو میا شتو په لسیزو باندې او په دې لسو ورځو کې نیک عمل غوره دی د نورو ټولو میاشتو په لسیزو باندې چې د رمضان لس ورځې هم په کې شامل دي او د

ذوالحجې د لومړیو لسو ورځو فرائض د نورو میاشتو د لسیزو په فرائضو باندې بهتره دي او نوافل یې هم د نورو لسیزو په نوافلو غوره دي. فتح الباري، لابن رجب( ١١/٦)
په حدیث کې د نېک عمل مفهوم عام دی، یعنې هر ډول عبادت، لکه ذکر، تسبیح، استغفار، د قرآن کریم تلاوت، صدقه ورکول، د خپلوانو سره اړیکې ټینګول، روژه نیول، اوداسې نور...
په یو بل حدیث شریف کې راغلي چې د ذوالحجې په لومړیو لسو ورځو او شپو کې د یوې شپې عبادت د یو کال د عبادت سره برابر دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ أَيَّامِ الدُّنْيَا أَيَّامٌ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ سُبْحَانَهُ أَنْ يُتَعَبَّدَ لَهُ فِيهَا مِنْ أَيَّامِ الْعَشْرِ، وَإِنَّ صِيَامَ يَوْمٍ فِيهَا لَيَعْدِلُ صِيَامَ سَنَةٍ، وَلَيْلَةٍ فِيهَا بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ» سنن ابن ماجه (١ /٥٥١)
ترجمه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ددنیا د ورځو څخه داسې ورځې نورې نشته چې هغه دې الله تعالی ته ډیرې غوره وي چې په هغو ورځو کې دې د الله تعالی عبادت وشي پرته د دې لسو ورځو څخه.بېشکه د ذالحجې په لومړیو لسو ورځو کې د یوې ورځې روژه د یو کال د روژو سره برابره ده او د ذوالحجې د یوې شپې عبادت د لیلة القدر د شپې له عبادت سره برابر ده.

## ٢- د عرفې د ورځې فضیلت:

عرفه د ذوالحجې نهمه ورځ ده او عرفات د هغه مقدس ځای نوم دی چې د حج عظیم رکن (وقوف) په کې اداء کیږي.
په اسلام کې د عرفې ورځې لوی مقام او فضیلت لري.
د ذوالحجې په نهم تاریخ د عرفې په ورځ حاجیان د حج مهم رکن (وقوف عرفات) په دغه ورځ اداء کوي او څوک چې د عرفې په ورځ په عرفات کې وقوف ونکړي د هغه حج صحت نلري.
الله جل جلاله فرمایلي دي: {فإذا أفضتم من عرفات فاذكروا الله عند المشعر الحرام} [البقرة:١٩٨].
ترجمه:- کله چې تاسې را ښکته شوی له عرفات څخه ، پس یاد کړئ الله په مشعر الحرام کې.(مزدلفه کې)
**د استدلال وجه:** په پورتني مبارک آیت کې د(اذا) حرف راغلی دی، چې په عربي کلام کې د شرط لپاره استعمالیږي.
الله تعالی فرمایې چې هرکله تاسو د عرفات څخه را کوز شوی ؛ نو په مشعر الحرام کې د الله تعالی یادونه او ذکر وکړئ.
مفسرین وایې، چې د (اذا فإذا أفضتم من عرفات) په وجه په مزدلفه کې د الله تعالی ذکر مشروط د عرفات په وقوف پورې موقوف دي ؛ ځکه چې شرط په مشروط مقدم وي.په یو روایت کې راځي: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: «كَانَتْ قُرَيْشٌ وَمَنْ دَانَ دِينَهَا يَقِفُونَ بِالْمُزْدَلِفَةِ، وَكَانُوا يُسَمَّوْنَ الحُمْسَ، وَكَانَ سَائِرُ العَرَبِ يَقِفُونَ بِعَرَفَاتٍ، فَلَمَّا جَاءَ الإِسْلاَمُ أَمَرَ اللَّهُ نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْتِيَ عَرَفَاتٍ، ثُمَّ يَقِفَ بِهَا، ثُمَّ يُفِيضَ مِنْهَا» فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: {ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ}.متفق علیه
ژباړه:- د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی هغه وایې قریش او هغه څوک چې د هغوی ددین پیروي یې کوله هغوی به په مزدلفه کې وقوف کولو او دې وقوف ته به یې (الُحمس) ویلو؛ خو نورو عربو به په عرفات کې وقوف کولو ، کله چې اسلام راغی الله تعالی خپل پیغمبر ته (صلی الله علیه وسلم) امر وکړ چې عرفات ته لاړشي او بیا هلته د عرفات په میدان کې وقوف وکړي او بیا له عرفات څخه مزدلفې ته راښکته شي ، نو دا مبارک آیت{ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ} [البقرة: ١٩٩] دغه معنا لري.په یو بل روایت کې راځي : « الْحَجُّ عَرَفَةُ».سنن الترمذي (٣/ ٢٣٧)
ژباړه:- حج د عرفې د ورځې څخه عبارت دی. یعنې د عرفې په ورځ په عرفات کې وقوف د حج مهم رکن دی.
د حدیث معنا داده چې د عرفې ورځ د حج رکن اعظم دی.
د عرفې ورځې د روژې په برکت الله تعالی دمسلمان د تیر کال او د راتلونکي کال ګناهونه معاف کوي.

په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي قَتَادَةَ الأَنْصَارِيِّ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال:«صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِى قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِى بَعْدَه». صحيح مسلم (٣ /١٦٧)

ژباړه:- د ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې چې ر سول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: د عرفې د ورځې روژه، زه د الله تعالی څخه اميد لرم چې محوه به کړي (روژه د عرفې) (گناه) د هغه کال چې له عرفې ورځې څخه مخکې ۇ او (گناهونه) د هغه کال چې د عرفې د ورځې څخه وروسته دی.

؛البته د عرفې په ورځ کې د حاجيانو لپاره روژه نيول مکروه ده، ځکه د عرفې د روژې په نيولو سره حاجيان له وقوف او نورو مناسکو اداء کولو څخه کمزوري کيږي ؛ خو که چيرې کوم داسې حاجي وي چې د عرفې ورځې د روژې په نيولو سره نه کمزروی کيږي ؛نو بيا کراهيت نلري. بدائع الصنائع (٢/ ٧٩)

د عرفې ورځ د جهنم څخه د خلاصۍ ورځ ده. د عرفې په ورځ الله تعالی د جهنم څخه مسلمانان خلاصوي او هغوی ته نجات ورکوي او د عرفې په ورځ د الله رحمت ډير زيات نږدې وي او الله تعالی د عرفې په ورځ ملائلکو ته د مؤمنانو په اړه افتخار کوي. په حديث شريف کې راځي: عن عَائِشَةَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ مِنْ أَنْ يُعْتِقَ اللَّهُ فِيهِ عَبْدًا مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ وَإِنَّهُ لَيَدْنُو ثُمَّ يُبَاهِى بِهِمُ الْمَلاَئِكَةَ فَيَقُولُ مَا أَرَادَ هَؤُلاَءِ ». صحيح مسلم (٤/ ١٠٧)

ترجمه:- دحضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی ، هغه وايې چې بيشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د عرفې له ورځې څخه پرته بله داسې يوه ورځ نشته چې الله رب العزت په کې ډېر بنده زيات له اور څخه خلاص کړي، يقيناً (د عرفې په ورځ) د الله تعالی رحمت را نږدې شي (مسلمانانو ته) او بيا الله تعالی د مؤمنانو صفت ملائکوو ته بيانوي او الله تعالی وايې : دا خلک څه غواړي ؟.( چې د لرو وطنو څخه راغلي دي او زحمتونه يې گاللي دي) المفهم للقرطبي(١١/ ١٣)

د عرفې په ورځ د الله تعالی رحمت زيات را نازليږي او همدې وجې نه د عرفې په ورځ شيطان ډير زيات نا اميده، خوار او ذليله وي. په حديث شريف کې راځي: عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ كَرِيزٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« مَا رُئِيَ الشَّيْطَانُ يَوْمًا هُوَ فِيهِ أَصْغَرُ وَلَا أَدْحَرُ وَلَا أَحْقَرُ وَلَا أَغْيَظُ مِنْهُ فِي يَوْمِ عَرَفَةَ». موطأ مالك (٣ /٦٢١)

ترجمه:- د طلحه بن عبيدالله بن کريز رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: نه دی ليدل شوی شيطان په بله ورځ کې چې په هغې ورځ کې دې شيطان ډير ټيټ، سپک، ذليله او غوسه وي، پرته د عرفې د ورځې څخه.

د عرفې ورځ هغه مبارکه ورځ ده چې په دې ورځ کې الله تعالی خپل دين کامل کړی دی. الله جل جلاله فرمايلي دي: ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا)).[المائدة: ٣]

ترجمه: نن ما ستاسی دين، ستاسی لپاره بشپړ کړ او خپل نعمت می پرتاسو پوره کړ، او ستاسې لپاره می اسلام ددين په توگه غوره کړ.

دا آيت په حجة الوداع کې د عرفې په ورځ په نبی -صلى الله عليه وسلم - باندې د عرفات په مقام کې نازل شوی دی.

حافظ ابن كثير – رحمه الله- د دې ايت په تفسير کې ليکی: دا د الله تعالی پدې امت ډير ستر نعمت دی، چې دين يې ورته بشپړ کړ، دوی بل دين ته اړتيا نه لري، او له خپل نبی -صلى الله عليه وسلم - پرته بل نبی ته هم اړتيا نه لري، له دې امله الله جل جلاله نبی -صلى الله عليه وسلم د خپل وروستي استازي په توگه پيريانو او انسانانو ته راوليږلو، حلال هغه دی چې نبي عليه السلام بيان کړي دي او حرام هغه دي، چې نبي عليه السلام ورڅخه منع کړی ده او دين هغه دی چې نبي عليه السلام راوړی دی، د څه په اړه چې يې خبر ورکړی دی هغه حق او ثابت دي، دروغ او شک په کې هيڅ ځای نلري.تفسير ابن كثير (٣/٢٦).

د عرفې د ورځې دعاء تر ټولو غوره دعاء ده. د عرفې د ورځې د دعاء په اړه رسول صلى الله عليه وسلم فرمايي:« خَيْرُ الدُّعَاءِ دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ، وَخَيْرُ مَا قُلْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّونَ مِنْ قَبْلِي: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ». سنن الترمذي (٥ /٥٧٢)

ژباړه:- غوره دعاء دعرفې د ورځ دعاء ده، او غوره وينا هغه ده چې ما او له ما څخه مخکې پيغمبرانو ويلې ده، هغه داده: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ».

## ۳- د اختر د ورځې فضيلت:

اختر د اسلام له شعائرو څخه دی او په ځينو رواياتو کې ورته حج الاكبر هم ويل شوی دی. المبسوط،للسرخسي (٤/ ٥٩)

حضرت على كرم الله وجهه فرمايلي دي: (عن علي قال : يوم الحج الأكبر يوم النحر )سنن الترمذي (٣/ ٢٩١)

ژباړه:- د حضرت على رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې د حج اكبر ورځ د قربانۍ ورځ ده.

په يو بل روايت کې راځي:عن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَنِى أَبُو بَكْرٍ فِيمَنْ يُؤَذِّنُ يَوْمَ النَّحْرِ بِمِنًى أَنْ لاَ يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلاَ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ وَيَوْمُ الْحَجِّ الأَكْبَرِ يَوْمُ النَّحْرِ). سنن أبى داود-ن (٢/ ١٣٩)

ژباړه:- د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې زه ابوبكر صديق رضی الله عنه د هغه چا په جمله کې وليږلم چې اعلان به کوي د اختر په ورځ په منی کې هغه داسې اعلان چې حج به نه کوي ددې کال څخه وروسته مشرک او طواف به نه کوي له بيت الله څخه لغړ انسان او د حج اكبر ورځ هغه داختر (قربانۍ) ورځ ده.

او د اختر ورځې ته ځکه حج اكبر ويل کيږي چې په دې ورځ کې دحج مناسک زيات اجراء کيږي.

د اختر د ورځې د فضيلت په باره کې په يو حديث کې راځي. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قُرْطٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه و سلم- :« إِنَّ أَعْظَمَ الأَيَّامِ عِنْدَ اللَّهِ يَوْمُ النَّحْرِ ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ وَهُوَ الَّذِى يَلِيهِ ».سنن النسائي الكبرى (٢/ ٤٤٤)

و في لفظ : «أفضل الأيام عند الله يوم النحر ويوم القر » صحيح ابن حبان بتحقيق الأرناؤوط (٧/ ٥١)

ژباړه:- د عبدالله بن قُرْط رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې ر سول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: بېشکه د عظيمو ورځو له جملې څخه د الله تعالى په نزد باندې هغه د لوی اختر ورځ ده او بيا د اختر دوهمه ورځ ده .

او ددې روايت په يو لفظ کې راځي چې د بهتره ورځو له جملې څخه دالله تعالى په نزد هغه د اختر ورځ ده او د اختر دوهمه ورځ ده.

هرکله چې د الله تعالى ضيوف او ميلمانه حاجيان د عرفات له وقوف څخه خلاص شي او الله تعالى ورته بخشش وکړي، په دوهمه ورځ يعنې د ذوالحجې په لسم تاريخ کې بيا دوی هم خوشحالي هم کوي او هداياوې ذبح کوي او د خپلو هداياوو غوښې خوري چې په دغه ورځ کې د حاجيانو په شان په نړۍ کې عام مسلمانان هم داختر لمونځ کوي ، خوشحالي لمانځي او د الله تعالى د رضا حاصلولو په هدف قرباني کوي او څاروي ذبح کوي او خپله هم د خپلو قربانيو غوښــې خوري او خپلو او خپلوانو او فقيرانو ته يې هم ورکوي .

الله تعالى د مسلمانانو د قربانيو په اړه فرمايي: (لَنْ يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَكِنْ يَنَالُهُ التَّقْوَى مِنْكُمْ) [ الحج: ٣٧]

ترجمه:- هيڅلکه يې هم نه غوښې الله ته رسيږي او نه يېويني ، هغه ته خو (يواځې) ستاسو تقوى رسيږي.

د اختر د لمانځه او د قربانۍ په هلكه الله جل جلاله فرمايلي دي:(فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ)[الكوثر:٢]

ترجمه:- پس لمونځ وکړه خاص خپل رب لره او ذبح وکړه (خاص هغه لره).

**وجه د استدلال:** د (فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ) دواړو حکمونو په اړه مفسرين بيلا بيل نظرونه لري چې د هغې له جملې څخه يو نظر دادی چې د (فَصَلِّ لِرَبِّكَ) څخه مراد د اختر لمونځ دی او د(وَانْحَر) څخه د قربانۍ ذبح كول يا د اختر ورځ مراده ده.

امام قرطبي رحمه الله وايې:(وقال قتادة وعطاء وعكرمة: " فصل لربك " صلاة العيد ويوم النحر. وقال أنس: كان النبي صلى الله عليه وسلم ينحر ثم يصلي، فأمر أن يصلي ثم ينحر). تفسير القرطبي (٢٠/ ٢١٨)

ژباړه:- قتاده، عطاء او عكرمه رحمهم الله وايې چې د (فصل لربک) څخه مراد داختر لمونځ او داختر ورځ مراده ده.

او انس رضي الله عنه وايې چې نبي علیه السلام به لومړی قرباني کوله بیا به یې لمونځ کولو، نو امر ورته وشو چې لومړی د اختر لمونځ وکړه او بیا قرباني وکړه.

داختر د خوښیو او خوشحالیو په اړه نبي علیه السلام فرمایلي دي:(إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا وَهَذَا عِيدُنَا) صحيح البخاري ت (٢/ ٣٦٦)
ژباړه:- بیشکه د هر یو قوم اختر وي، او دا زمونږ اختر دی.
لوی اختر د مسلمانانو اختر دی او د خوراک او څښاک ورځې دي.په یو حدیث شریف کې راځي: عن عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « يَوْمُ عَرَفَةَ وَيَوْمُ النَّحْرِ وَأَيَّامُ التَّشْرِيقِ عِيدُنَا أَهْلَ الإِسْلاَمِ وَهِىَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ ». سنن أبى داود-ن (٢/ ٢٩٥)
ژباړه:- د عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل: دعرفې ورځ او د اختر ورځ او دتشریق ورځې زمونږ د اهل اسلام(مسلمانانو) اختر دی او دا د خوراک او څښاک ورځې دي.

## ۴- د ذوالحجې میاشتې د لومړیو لسو ورځو اعمال:

د ذوالحجې په لومړیو لسو ورځې کې عبادات کول او نیک اعمال کول د نورو ورځو او شپو په نسبت زیات ثواب لري.
صحابه کرامو اوتابعینو او نورو سلفو علماوو به د ذوالحجې د لومړیو لسو ورځو خاص خیال ساتلو او په دې ورځوکې به یې عبادت ته ملا تړله.
امام ابو عثمان النهدي رح وایې(كانوا يعظمون ثلاث عشرات العشر الأول من ذي الحجة والعشر الأخير من رمضان والعشر الأول من المحرم). لطائف المعارف لابن رجب (ص: ٣٥)
ژباړه:- مخکنیو علماوو به ددرې لسیزو زیات احترام او درناوی کولو .لومړی لس ورځې د ذوالحجې، وروستۍ لس ورځې د رمضان المبارک او لومړنۍ لس ورځې د محرم الحرام.
د ذوالحجې په لومړیو لسو ورځو کې نیک او مستحب عملونه کول زیات ثواب او اجر لري ؛ چې د ځینو بیلګې په لاندې توګه دي:
۱- عمره کول. که څوک توان ولري او د ذو الحجې په لومړیو لسو ورځو کې عمره وکړي، نو په دې ورځو کې عمره کول د نورو عامو ورځو په نسبت زیات ثواب لري.
په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «العُمْرَةُ إِلَى العُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا » . متفق عليه
ترجمه:- دابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: یوه عمره تر بلې عمرې کفاره ده د هغو ګناهونو چې ددې دواړو عمرو ترمنځ دي.
په یوروایت کې راځي: عن ابْنَ عُمَرَ يَقُولُ: «الْعُمْرَةُ فِي الْعَشْرِ، أَحَبُّ إِلَيَّ مِنَ الْعُمْرَةِ بَعْدَ الْحَجِّ». مصنف ابن أبي شيبة (٣ /١٦٠)
ترجمه: د عبدالله بن عمررضي الله عنهما څخه روایت دی هغه وایې چې عمره کول د ذوالحجې په لومړۍ لسمه کې ماته غوره ده د هغه عمرې څخه چې د حج څخه وروسته وي.
۲- پر فرضي او نفلي عبادتونو اهتمام کول. په فرضي او نفلي عبادتونو باندې اهتمام کول مسلمان الله تعالی ته نږدې کوي.
په حدیث شریف کې رازي:( وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ...). صحيح البخاري
ترجمه:- او نه نږدی کیږي ماته زما بنده په بل داسې څه باندې چې هغه ماته دفرضو څخه زیات خوښ وي. او تل زما بنده ماته په نوافلو باندې نږدی کیږي ؛ تر دې چې زه ورسره محبت وکړم.

په نوافلو سره بنده د الله تعالی محبوب گرځي. نفلي عبادات لکه نفلي لمونځ، دقرآن کريم تلاوت، صله رحمي، دبې وزلو سره مر سته کول، ښه خبره کول، صدقه کول...

**۳-** زيات ذکر کول او زياته دعاء غو ښتل . د ذوالحجې په لومړيو لسو ورځو کې دعاء غو ښتل، ذکر کول او تکبيرات ويل زيات ثواب لري او بايد چې مسلمان په اذکارو او دعاگانو زيات اهتمام وکړي او له ددغو اعمالو څخه غافل نشي خصوصا د عرفې په ورځ.

الله جل جلاله فرمايي: (وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ) [البقرة: ۲۰۳]

ترجمه: او ذکر وکړئ د الله په ورځو شميرل شوو کې .

مفسرين وايې چې د (معدودات) څخه د تشريق ورځې دي .يعنې د تشريق تکبيرونه ووايإست.

په يو بل مبارک آيت کې راځي: (وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ) [الحج:۲۸]

ترجمه:- او يادوي به دالله تعالی نوم په هغه ورځو معلومو کې.

امام سمرقندي رحمه الله ليکلي دي: د (ايام معدودات) څخه د تشريق ورځې دي او د (ايام معلومات) څخه مراد د اختر ورځې دي.

بحر العلوم، للسمرقندي(۱/ ۱٦۱)

خوا حافظ ابن رجب وايي: چې د (ايام معلومات) څخه دجمهورو علماوو په نزد د ذوالحجې لومړنۍ لس ورځې دي.الطائف(ص: ۲۸۹)

## د ذوالحجې په لومړيو لسو ورځو کې ذکر کول په دوه ډوله دی:

**الف: مطلق ذکر** : مطلق ذکر هغه مسنون ذکر دی چې هر وخت د ذوالحجې په لومړيو ورځو کې وي يا نورو ورځو کې وي.

**ب: مقيد ذکر يا دتشريق د ورځو تکبيرونه:** هغه د ايام التشريق دپنځو ورځو اذکار دي چې د عرفې ورځې د سهار دلمانځه څخه وروسته پيل کيږي او د تشريق د آخري ورځې د مازيگر دلمانځه څخه وروسته ختميږي( د ذوالحجې ۱۳ تاريخ مازيگر لمانځه وروسته) ، چې ټول درويش (۲۳) لمونځونه کيږي دوام مومي.

او د مقيد ذکر الفاظ هم مأثور دي:( الله أکبر الله أکبر لا إله إلا الله والله أکبر الله أکبر . ولله الحمد). البحر الرائق (۲/ ۱۷۸)

تکبيرات التشريق د هر فرض لمانځه دجماعت څخه وروسته متصل په جهر سره ويل واجب دي. تحفة الفقهاء (۱/ ۱۷۵)

په حديث شريف کې راځي: عن جابر رضي الله عنه قال : ( کان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا صلى الصبح من غداة عرفة يقبل على أصحابه فيقول : على مكانكم ويقول :. فيكبر من غداة عرفة إلى صلاة العصر من آخر أيام التشريق ) سنن الدارقطني (۲/ ۵۰)

ژباړه:- د حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې د نبي عليه السلام دا عادت ؤ چې کله به يې د عرفې په ورځ سهار لمونځ وکړ، خپلو اصحابو ته به يې مخ راواړولو او ورته به يې وويل: په خپلو ځايونو کې کينئ. بيابه يې تکبير ويلو د سهار د عرفې د ورځې څخه د ايام تشريق د اخري ورځې د مازيگر د لمانځه پورې.

په ذکر کې تکبير، تهليل او تحميد ټول شامل دي .په حديث شريف کې راځي:(عَنْ ابْنِ عُمَرَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ أَيَّامٍ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ وَلَا أَحَبُّ إِلَيْهِ الْعَمَلُ فِيهِنَّ مِنْ هَذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشْرِ فَأَكْثِرُوا فِيهِنَّ مِنْ التَّهْلِيلِ وَالتَّكْبِيرِ وَالتَّحْمِيدِ ». مسند أحمد (۱۰/ ۲۹٦)

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی هغه دنبي عليه السلام څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: دالله جل جلاله په نزد دا سې لوی او بهتره ورځې نشته چې الله ته په کې عمل کول غوره وي ددې لسو ورځو څخه. پس په دې ورځو کې لااله الاالله ، الله اکبر ولله الحمد، زيات ووايإست.

په ذکر کې دعاء هم شامله ده او په کار ده چې په دغو لسو ورځو کې د الله تعالی څخه زياتې دعاوې وغواړو.

تر ټولو بهتره دعاء د عرفې د ورځې دعاء ده. په حديث شريف کې راځي: عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ كَرِيزٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَفْضَلُ الدُّعَاءِ دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ، وَأَفْضَلُ مَا قُلْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّونَ مِنْ قَبْلِي: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ». موطأ مالک (١ /٢١٤)

ترجمه:- له طلحه بن عبيدالله بن کريز رضي الله عنهما څخه روايت د ی، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : ترټولو غوره دعاء د عرفې د ورځې دعا ده . او هغه غوره څه چې ما ويلي دي او له ما څخه مخکې نبيانو ويلي دي هغه دادي: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ.

په يو بل روايت کې راځي: عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ - وَهُوَ ابْنُ صُهَيْبٍ - قَالَ سَأَلَ قَتَادَةُ أَنَسًا أَىُّ دَعْوَةٍ كَانَ يَدْعُو بِهَا النَّبِىُّ -صلى الله عليه وسلم- أَكْثَرَ قَالَ كَانَ أَكْثَرُ دَعْوَةٍ يَدْعُو بِهَا يَقُولُ « اللَّهُمَّ آتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ». مسلم (٨/ ٦٨)

ژباړه:- د عبدالعزيز بن صهيب رح څخه روايت دی هغه وايې چې قتاده رح د انس بن مالک رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې هغه کومه يوه دعاء ده چې نبي عليه السلام به زياته او اکثره وخت ويله؟ حضرت انس رضي الله عنه وويل: اکثره به نبي عليه السلام داسې دعاء غوښتله: اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ.

حسن بصري رحمه الله وايې چې د (الحسنة) څخه مراد په دنيا کې علم او عبادت دی او په آخرت کې جنت دی.

سفيان ثوري رحمه الله وايې: د (الحسنة) څخه مراد په دنيا کې علم او پاکيزه رزق دی او په آخرت کې ورڅخه جنت مراددی.

ميمون بن مهران وايي : مونږ خلک وليدل چې دوی به د ذوالحجې په لومړيو لسو ورځو کې داسې زيات تکبيرونه ويل چې زه يې د اوبو د امواجو سره مشابه بولم . [فتح الباری لابن رجب]

۴- د ذوالحجې په لومړيو نهو ورځو کې روژه نيول. د ذوالحجې په لومړيو نهو ورځو کې روژه نيول لوی فضيلت لري.

په حديث شريف کې رازي: عَنْ هُنَيْدَةَ بْنِ خَالِدٍ عَنِ امْرَأَتِهِ عَنْ بَعْضِ أَزْوَاجِ النَّبِىِّ - صلى الله عليه و سلم- قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم- يَصُومُ تِسْعَ ذِى الْحِجَّةِ وَيَوْمَ عَاشُورَاءَ وَثَلاَثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ). سنن أبى داود-ن (٢/ ٣٠١)

ترجمه:- هنيده ابن خالد دخپلې ښځې څخه روايت کوي، دهغه ښځه دپيغمبرعليه السلام دځينو بيبيانو څخه روايت کوي هغه فرمايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا عادت ؤ چې هغه به د ذوالحجې نهو ورځو روژه نيوله او دعاشوراء ورځ روژه به يې نيوله او درې ورځې دهرې مياشتې څخه .

که چيرې څوک د ذوالحجې نهه ورځې روژه نشي نيولای د عرفې ورځ روژه بايد هيره نشي.

امام نووي رحمه الله وايي:د ذوالحجې په لومړيو لسو ورځو کې روژه نيول قوي مستحب دي خصوصا د عرفې په ورځ. شرح النووي على مسلم (٤ /٢٠٩)

۵- صدقه او خيرات ورکول: صدقه ورکول انسان نيکو کارونو ته سوقوي، صدقه دانسان په وړاندې بندی دروازی برسيره کوي او له شر څخه يي ساتي. همدا راز صدقه دانسان ځان او مال پاکوي او په صدقې سره دانسان ګناهونه ښښل کيږي ، صدقه انسان ددرهم او دينار له بندګۍ څخه ساتي. کله چې صدقه د ذوالحجې په لومړيو لسو ورځو کې ورکړل شي؛ نو اجر او ثواب به يې زيات وي.

په حديث شريف کې راځي: عن أبي هريرة قال : قال رسول الله : «من تصدق بِعدل تمرة من كسب طيب ، و لا يصعد إلى الله إلا الطيبُ ، فإن الله يتقبلها بيمينه، ثم يربِّيها لصاحبه كما يربِّي أحدكم فُلُوَّه حتى تكون مثلَ الجبل ». متفق عليه

ژباړه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چاچې صدقه ورکړه په اندازه د يوې خرما د پاکيزه مال څخه او الله تعالى ته خيژي (نه قبلوي)، مګر پاکيزه. نو بيشکه الله تعالى يې( بلاکيف) په ښي لاس

قبلوي او بيا يې ورلره لويوي(يعنې ثواب يې زياتوی) ، لکه څرنګه چې لوي يو د ســتاســې نه خپل د اوښ بچی آن تردې پورې چې ثواب يې د اُحد غر په اندازه شي.

**٦-** د اختر لمونځ کول او قرباني ذبح کول: د ذوالحجې د لومړيو لســو ورځو د غوره اعمالو څخه د اختر په ورځې د اختر لمونځ کول دي او د اختر لمانځه څخه ورو سته دا ضحيې حلالول دي. په حديث شريف کې راځي: عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ». سنن الترمذي (٣ /١٣٥)
ترجمه:- د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي نه دی کړی بني آدم داسې څه عمل د اختر په ورځ چې هغه دې الله تعالی ته غوره وي د وينې د تويولو(قربانی) څخه.

**اقول قولي هذا، استغفرالله لي ولکم ولسائر المسلمين**
**والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**